**بسم الله الرحمن الرحيم**

## سپېڅلي پوځي افسران د الله سبحانه وتعالی د رضایت په خاطر جهاد خوښوي، تر څو د شهادت مرتبې ته ورسېږي او یا غازیان شي

اسلام نه یواځې جهاد فرض کړی، بلکې د جهاد لپاره یې ډېره قوي تلوسه رامنځته کړې، چې د همدې تلوسې له مخې ۱۳پېړۍ د اسلامي امت او نورو ملتونو تر منځ تفکیک کېده. دا د جهاد تلوسه وه چې امت له کوم شک پرته د اسلام او مسلمانانو د دوښمنانو د له منځه وړلو لپاره لویو زیانونو ته غاړه کېښوده. یواځې پر الله سبحانه وتعالی د توکل له لارې د مسلمانانو وسله والو پوځونو هغو لویو ځواکونو ته ماته ورکړې، چې د فاسدو عقایدو، پولو او توکمیز لوړوالي لپاره جنګېدل. د مسلمانانو وسله والو پوځونو د اسلام د خپراوي لپاره خپله ونډه ادا کړې او د اسلام د تطبیق په مخ کې یې مادي خنډونه له منځه وړي. ځکه خو په ډلو ډلو خلک اسلام ته داخل شول او د اوسني پراخ او ګڼ نژادي امت د را منځته کولو لپاره یې بنسټ کېښود.

ان کله چې په ۱۹۲۴م کې خلافت له منځه ولاړ، بیا هم د امت په منځ کې د جهاد مینې د مسلمانانو دوښمنان ځورول. یوه بېلګه یې د بوسنیا د سربرنیتسا ښار د ټولوژنې ۲۵مه کالیزه ده. کله چې د ۱۹۹۵م د جولای پر یوولسمه د ملګرو ملتونو هالنډي ځواکونو سربرنیتسا ښارګوټی پرېښود، د صربیانو په لاس د یوولسو ورځو په موده کې شاوخوا اته زره بوسنیاني مسلمان سړي او تنکي ځوانان په قتل ورسېدل. برتانیه اندېښمنه وه چې هسې نه د ملګرو ملتونو تر امر لاندې مسلمان ځواکونه د صربیانو سره د جګړې په موخه صفونه جلا کړي. د جهاد مینې په افغانستان کې پخوانی شوروي اتحاد پر ګونډو کړ او اوس امریکا دې ته اړه شوې چې د خپل حیثیت د ساتلو لپاره تړون ته غاړه کېږدي. د اشغال شوي کشمیر په مسلمانانو کې د جهاد مینې د هند دولت، چې د ۲۰۱۹ م د اګېسټ پر ۵مه یې اشغال شوی کشمیر له هند سره یو ځای کړ، خو هند یې له وېرې سره مخ کړی او لا هم د شدید او جدي مخالفت سره مخ دی.

د مسلمانانو اوسني حکام په وسله والو پوځونو کې د جهاد د مینې راټوکولو پر ځای د الله سبحانه وتعالی د غوښتنې خلاف، د لوېدیځو ځواکونو او د هغوی د متحدو، یهودي او هندي دولتونو په نیابت جنګېږي. د پاکستان د حکامو په اړه، دوی په فعاله توګه د پاکستان په وسله والو پوځونو کې د مسلمانانو هغه تلوسه له منځه وړي، چې د اشغال شوي کشمیر د ازادۍ په موخه یې د جګړې لپاره لري. د کشمیر د ازادۍ لپاره د مسلمانو افسرانو او سرتېرو د بیدارولو پر ځای، دوی په پوځ کې له دوښمن سره د جګړې جرات له منځه وړي. دوی دا نظر نور هم تقویه کوي چې جګړه د حل لار نه ده او بهانه یې دا ده چې دوښمن هستوي وسله لري یا دا چې اقتصاد مو کمزوری دی. د مسلمانانو مستبد حکام، هغو ربښتینو مسلمانانو ته چې په هر ځای کې د

ښکېلاک پر وړاندې جنګیږي، د «ترورېستې» خطاب کوي. خو بیا هم، د نورو ټولو استعماري پروژو په څېر د جهاد د غلي کولو دغه هڅه به هم ناکامه شي، ځکه اسلامي امت تل پر الله سبحانه وتعالی او د هغه پر رسول صلی الله علیه وسلم تکیه کړې او د دې کار خیر د وسله والو پوځونو په شمول د امت هرې برخې ته رسېدلی دی.

هغه نظامي افسر چې الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ته ژمن وي؛ باید په زړه او ذهن کې دا په یاد ولري چې په اسلام کې جهاد د یوې فریضې په توګه رامنځ ته شوی، چې پرېښودل یې د الله سبحانه وتعالی د غضب، او ترسره کول یې د هغه سبحانه وتعالی د رحمت او اجر سبب کېږي.

الله سبحانه وتعالی په قرانکریم کې جهاد په لاندې ډول یاد کړی:

**﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰ أَن تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾** [البقرة: ۲۱۶]

***ژباړه:*** *تاسي ته د جنګ امر شوی دی او هغه تاسې ته ناخوښه دی. کېدای شي چې یو شی تاسي ته نا خوښه وي او هماغه ستاسې لپاره ډېر غوره وي او کېدای شي یو شی تاسې خوښوئ او هماغه ستاسې لپاره بد وي، الله سبحانه وتعالی پوهیږي تاسې نه پوهېږئ.*

په دې مبارک ایت کې الله سبحانه وتعالی پر هغو مسلمانانو چې د جګړې وړتیا لري دا فرض کړې، چې د اسلام د هغه دوښمن پر وړاندې، چې تېری کوي جهاد وکړي. په ورته وخت کې اسلام دا مني چې جګړه داسې یو شی ده چې نفس یې نه خوښوي او اسلام د نفس له دې ناخوښۍ سره په اغېزمنه توګه چلند کوي.

الله سبحانه وتعالی فرمایي [**وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ**] "که څه هم تاسې یې نه خوښوئ" یعنې جنګ سخت دی او پر زړه دروند تمامیږي. اصلاً دا جګړه ده چې په دې ایت کې تشریح شوې.

په جهاد کې شهادت، زخم، د دوښمن پر وړاندې سخته مبارزه او د سفر د سختیو زغم شامل دي؛ دا ممکن د سیاچین سخته یخني وي یا د تهار د دښتو سختې ګرمۍ. بیا الله سبحانه وتعالی فرمایي [**وَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُم**] ***ژباړه:*** *کېدای شي چې یوڅه تاسې ته ناخوښه وي، مګر هغه تاسې ته خیر وي.* یعنې په دې جنګ پسې بریا او پر دوښمن باندې برلاسی راروان دی.

اوس په سنتو کې د جهاد په اړه د راغلیو نصوصو څخه یادونه کوو، تر څو یو مسلمان پوځي افسر غور پرې وکړي. د جهاد فضیلت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې څرګند دی او په صحیح حدیث کې راغلي دي:

**«مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ نَفْسَهُ بِالْغَزْوِ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّــة»**

***ژباړه:*** *هر هغه څوک چې مړ شي او د الله تعالی په لار کې یې جهاد نه وي کړی او نه یې په صداقت سره د جهاد په اړه فکر کړی وي، مرګ به یې د جهالت وي.*

د مکې د فتحې په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ وَلكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ، وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا»**(بخاري)

***ژباړه:*** *د مکې له فتحې وروسته هجرت نشته (له مکې څخه مدینې ته)، یواځې جهاد او نېک نیت شته. که له تاسې وغوښتل شي چې مخته لاړ شئ، نو لاړ شئ (جګړې ته)*

د احادیثو معتبر کتاب الظهري لیکي چې «د جهاد غوښتنه له هر کس څخه شوې ده، هغه که څوک د جګړې ډګر ته ځي یا یې تر شا درېږي. څوک چې شا ته پاتېږي باید د اړتیا په وخت کې د جهاد ملاتړ وکړي؛ د اړتیا په صورت کې باید مرسته ورسوي او که مخته د جګړې لپاره د تللو دستور ورکول شي، باید د دستور مطابق عمل ترسره کړي. خو که اړتیا نه وي ورته، نو بیا دې شا ته پاته کېږي.» اصلاً د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو کې، وسله وال اسلامي پوځونه دې ته هڅول شوي چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې له جهاد سره مینه ولري، په بریا پسې لاړ شي یا د شهادت لوړې مرتبې ته ځان ورسوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«مَا أَحَدٌ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا وَلَهُ مَا عَلَى الأَرْضِ مِنْ شَىْءٍ، إِلاَّ الشَّهِيدُ، يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ، لِمَا يَرَى مِنَ الْكَرَامَةِ»**(بخاري)

***ژباړه:*** *څوک چې جنت ته داخل شي بیا نه غواړي چې بیرته دونیا ته وګرځي، ان که پر ځمکه ده ته هرڅه هم ورکړل شي، خو له مجاهد څخه پرته چې هیله لري بیرته نړۍ ته وګرځي، تر څو د هغه مقام لپاره چې الله سبحانه وتعالی یې ورکوي؛ لس ځلې نور شهید شي.*

مسلمانو پوځیانو ته ددې یادونه وکړئ چې د اسلام لومړنی او تر ټولو غوره نسل، له جابرو حکامو څخه د خلکو د ازادولو لپاره جهاد تر سره کړي، تر څو دوی وکولای شي اسلام په ژوند کې پلی کړي. الله سبحانه وتعالی فرمایلي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ قَاتِلُواْ الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ﴾ [التوبه: ۱۲۳]**

***ژباړه:*** *ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! تاسو له هغو کفارو سره وجنګیږئ چې تاسو ته نږدې دي او لازمه ده چې دوی په تاسو کې سختي ومومي؛ او پوه شئ چې یقیناً الله سبحانه وتعالی د پرهېزګارو ملګری دی.*

الله سبحانه وتعالی مؤمنانو ته امر کوي چې له کفارو سره وجنګیږئ. لومړی له هغو کفارو سره چې اسلامي دولت ته نږدې دي، وروسته له لرې کفارو سره. ځکه خو د الله رسول صلی الله علیه وسلم په جزیرة العرب کې له مشرکینو سره جګړه پیل کړه. کله چې الله سبحانه وتعالی خپل رسول پر مکه، مدینه، طایف، یمن، یمامه، هجر، خیبر، حضرالموت او نورو عربي سیمو واکمن کړ او بېلابېلې عربي قبیلې په ډلو ډلو اسلام ته داخلې شوې، نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اهل کتابو پر وړاندې په جهاد پیل وکړ. هغه مبارک له رومیانو سره چې جزیرة العرب ته یې تر نورو نږدې موقیعت درلود؛ جګړې ته په چمتووالي پیل وکړ او په دې شکل یې د اسلام د دعوت لوی امتیاز ترلاسه کړ. ځکه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم تر هغې پورې مخته لاړ چې د هجرت په نهم کال د تبوک سیمې ته ورسېد، په ورته وخت کې یې امت د وخت له لویو امپراتوریو سره مقابلې ته رهبري کاوه.

نو ایا ربښتیني نظامي افسران به د جهاد په برخه کې د خلفاء راشدینو لاره تعقیب نه کړي؟ کله چې الله سبحانه وتعالی خپل رسول صلی الله علیه وسلم ته  د جنت وعده ورکړه، د نبوت پر منهج خلافت د جهاد پوره حق ادا کړ.

لومړي راشده خلیفه ابوبکرصدیق رضی الله عنه، د روم د صلیبیانو او د فارس له اور پرستانو سره جګړې ته د اسلامي پوځونو په چمتو کولو پیل وکړ. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت په برکت الله سبحانه وتعالی د فتحې دروازې ورته خلاصې او قیصر او کیسرا یې تر پښو لاندې کړې. الله سبحانه وتعالی د عمر بن خطاب رضی الله عنه په وسیله د کفارو برم له منځه یووړ او د نړۍ شرقي او غربي سیمو ته یې د اسلام حاکمیت او رڼا ورسول. وروسته د درېیم خلیفه حضرت عثمان رضی الله عنه په دور کې، د هند د شبه قارې په شمول د نړۍ په

مختلفو سیمو کې د اسلام حقانیت خپلې ریښې ټینګې کړې. همدارنګه څلورم راشده خلیفه، حضرت علی رضی الله عنه تر خپل تسلط لاندې دریو لویو وچو کې نور هم د اسلام حاکمیت ثابت او مستحکم وساته. ځکه نو خلفاء راشدین رضی الله علیهم اجمعین وو چې د الله د دغه قول **[وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ] "او پوه شئ چې الله له متقیانو سره دی"** په تصدیق کولو سره اسلام د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورساوه.

ویښ نظامي افسران باید پوه شي چې جهاد ته په شا اړولو سره د اسلام دوښمنانو جرات پیدا کړی چې د اسلامي خاورو پر پولو حملې وکړي او زیاتې اسلامي سیمې تر خپل تسلط لاندې راولي. تر دې مهاله چې کله یوه مسلمان حاکم یا پوځي قومندان د جهاد حکم ترسره کړی دی، الله سبحانه وتعالی هغه ته نصرت ورکړی او پر دوښمن یې برلاسی کړی دی. په حقیقت کې جهاد کول ویاړ او عزت له ځانه سره لري، خو پرېښودل یې یواځې او یواځې حقارت له ځانه سره راوړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي، «**مَا تَرَكَ قَوْمٌ الْجِهَادَ إلاّ ذُلّوا**»**(رواه احمد). ژباړه:** «**یو قوم هېڅکه جهاد نه پرېښودي، بغیر له دې چې دوی به ذلیل وي.** نو ځکه کله چې مسلمانانو له جهاد څخه لاس واخیست، د مغولو له لوري له ماتې سره مخ شول او بالاخره یې په جهاد سره مغولو ته په عین جالوت کې ماته ورکړه. مسلمانانو چې جهاد پرېښود، د صلیبیانو له لوري له سختو ماتو سره مخ شول، تر څو چې صلاح الدین مسلمانان پرله پسې بریا ته ورسول. د عثماني خلافت په دوره کې، دوی جهاد ته دومره لومړیتوب ورکړ چې اروپایي پلازمېنو په سقوط پیل وکړ او کومې سیمې چې باید فتح شوې وای د وېرې له امله په لړزه راغلې.

هغه پوځي افسران چې د جنت په لټه کې دي، باید د امت اوسني حالت ته پام وکړي. ټول هغه څه باید په نظر کې ونیسي چې د کایناتو د خالق له لوري رااستول شوي دي او د ریښتینو خلکو او هغو خلکو تاریخ باید وګوري چې د جهاد په فریضه کې یې غفلت کړی دی. له دې وروسته به دا ورته مالومه شي چې له چا سره باید ودرېږي؟ په اصل کې، کله چې امت په ۱۹۲۴م کې خپل ډال، خلافت له لاسه ورکړ، ورسره سم یې د جهاد په واسطه د نړۍ نورو سیمو ته د اسلام د حمل وړتیا هم له لاسه ورکړه. همدارنګه د اسلام دوښمنانو د امت مختلفې سیمې تر خپل تسلط لاندې راوستې؛ هغه که په لوېدیځ کې یهودي دولت دی چې فلسطین یې نیولی او یا په ختیځ کې هندي دولت دی چې کشمیر یې اشغال کړی دی. دا چې خلافت له منځه تللی، نو له هغو کفارو سره چې زموږ خاوره نیسي، جګړه نه درېږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«**وَالْجِهَادُ مَاضٍ مُنْذُ بَعَثَنِيَ اللَّهُ إِلَى أَنْ يُقَاتِلَ آخِرُ أُمَّتِي الدَّجَّالَ لاَ يُبْطِلُهُ جَوْرُ جَائِرٍ وَلاَ عَدْلُ عَادِلٍ، وَالإِيمَانُ بِالأَقْدَارِ**»(ابوداؤد)

***ژباړه:*** *جهاد به له هغه وخته پیلیږي، چې زه الله تعالی پیداکړی یم او تر هغه وخته به دوام کوي، چې زما د ډلې وروستي کسان د دجال سره وجنګیږي. د هېڅ جابر حاکم ظلم او د هېڅ عادل حاکم عدل به د (جهاد) مخنیوی ونه شي کړای.*

ځکه نو له کفارو سره جګړه فرض ده؛ که د مسلمانانو حاکم خلیفه وي او یا د مسلمانانو حاکم په اسلام سره حکم نه کوي. نو پر اسلامي پوځونو لازمه ده چې له اشغالګرو ځواکونو سره په مبارزه او جګړه کې سره متحد شي. که حاکم جګړې ته د پوځ له ورتګ سره موافق وي نو پر صحیح تګلاره به یې قدم ایښی وي. که یې کوښښ کاوه چې له جګړې څخه یې راوګرځوي او همداسې انتظار واوسي، نو په پوځ کې باید داسې یو صلاح الدین پیداشي چې د حاکم له پښو لاندې تخت ولړزوي او پوځونه ددې لپاره سره منسجم کړي چې سپېڅلې اسلامي خاورې له اشغال څخه پاکې کړي.

دا څرګنده ده چې اوسني مسلمان حکام د پوځي افسرانو پر وړاندې درېږي او د الله سبحانه وتعالی د رضایت ترلاسه کولو په لار کې یې خنډ ګرځي. اوسني مسلمان حکام وايي چې جګړه د حل لاره نه ده او هغوی چې جنګېږي د امت د دوښمنانو په توګه یې معرفي کوي. دا حکام د هغو خلکو مخه نیسي چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو او یا په کشمیر کې د هندي حکومت پر وړاندې وسله پورته کوي. تر دې هم بده دا ده چې دا حکام له اشغالګرو سره اړیکې عادي حالت راوستل غواړي چې دا اشغال ته د مشروعیت ورکولو مانا لري. په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی امر کړی چې فرمايي:

**﴿وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ﴾** (البقرة: ۱۹۱)

***ژباړه:*** *له هغوی سره چې هر چېرې مخامخ شئ وجنګېږئ، هغوی له هغه ځایه وباسئ کوم چې تاسې یې ترې ایستلي یاست.*

پورته ایت مبارک د ټولو هغو جنګیالیو لپاره دی چې د اسلام او مسلمانانو له دوښمنانو سره په جګړه کې ښکېل وي. په دې مانا، لکه څرنګه چې د دوی انرژي زموږ سره په جګړه کې مصرفیږي؛ باید زموږ انرژي هم له دوی سره په جګړه کې مصرف شي او له هغو سیمو څخه دوی باید وایستل شي، له کومو سیمو څخه چې دوی موږ ایستلي یو.

نو، دا جوته ده چې اوسني حکام به له اسلامي خاورو څخه اشغالګر ځواکونه ونه وباسي او نه به هم خلافت بیا اعاده کړي، تر څو نورو سیمو ته د اسلام د حمل پروسه بیرته جاري شي. دا پر هر پوځي افسر لازمه ده تر څو له

دې ناوړه حالت څخه د امت د ایستلو لپاره لاس په کار شي. هر افسر باید د امت تر څنګ دوربېږي او د جهاد لویه فریضه ترسره کړي. دا د نظامیانو مسوولیت دی چې اوسني حکام له واکه لرې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منهج د خلافت د بیا تاسیس لپاره خپل نصرت را مخې ته کړي. بیا به یوازې هغه مهال دوی د الله سبحانه وتعالی په لار کې د جنګ له لارې په نړۍ کې اوسنی ظلم محوه کړي. نو، د اسلامي امت پوځي افسران باید د انصارو غوندې واوسي، چې د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم دین ته یې نصرت ورکړ. هماغه وو چې الله سبحانه وتعالی هغوی په ایتونو کې وستایل او د هغوی د رییس؛ سعد بن معاذ رضی الله عنه په جنازه کې ملایکو برخه واخیسته. د انس بن مالک رضی الله عنه څخه ترمذي روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت معاذ رضی الله عنه د جنازې په اړه وویل: «**إِنَّ الْمَلَائِكَةَ كَانَتْ تَحْمِلُهُ**» *په رښتیا سره چې ملایکې هغه وړي*. نو د اوسمهال پر هغو پوځي افسرانو باندې به هم د الله سبحانه وتعالی رحمت وي چې د انصارو (رضی الله عنهم اجمعین) پر قدم، قدم ږدي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکوال: مصعب عمیر- پاکستان**

**فېسبوکي جملې:**

۱: د جهاد مېنې په افغانستان کې پخوانی شوروي اتحاد په ګونډو کړ او اوس امریکا دې ته اړه شوه چې د خپل حیثیت د ساتلو لپاره تړون ته غاړه کېږدي.

۲: هغه پوځي افسر چې الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ته ژمن وي؛ باید په زړه او ذهن کې دا په یاد ولري چې په اسلام کې جهاد د یوې فریضې په توګه رامنځته شوی دی.

۳: دا څرګنده ده چې اوسني مسلمان حکام د پوځي افسرانو پر وړاندې دربېږي او د الله سبحانه وتعالی د رضایت ترلاسه کولو په لار کې یې خنډ ګرځي.